# د ملی پیوستون پروگرام
## بریالی کیسه

### تیاري په رڼا بدلي شوي

د باميانو له ولايت خه خبري کوو له هغه ځايه چي دوه بي نظيره تاريخي اثره يعني شامامه او صلصال پکي موقعيت لري او زموږ د هيواد وياړ پوري تړلي دي.

باميان هغه ولايت دي چي ښکلي آب هوا لري او زيار ايستونکو خلکويي په عالي روحيه او پوره ميني يو بل ته لاسونه ورکړي او د کور کلي دودانولو لپاره زيار باسي موږ د دو آب زرسنګ په کلي کي چي د سعادت په دره کي موقعيت لري يوه نمونه لاسته راوړه چي کليوالو خپل کلي روښانه کړي دي دا کلي چي ۵۱ کورني پکي ژوند کوي د باميانو ولايت په مرکز کي پروت دي اوسيدونکويي د کلونو راهيسي د هغه ورځي په هيله وو چي خپل کلي روښانه ووينې تر هغه چي په کلي کي شورا جوړه شوه او خلکو ته يي دا توانايي وبښله څو خپلو هيلو ته ورسيږي د دوي د ډير زيار او ميني له برکته هغه پروژه چي د اوه کيلواټه بريښنا توان يي درلود ځواک يي پنځلس کيلواټوبريښنا ته لوړشو .

په دي اړه ددي کلي د يوه تن اوسيدونکي سيد حسين څخه اوروچي څرنګه يي ددي پروژي ځواک زيات کړ :

موږ له دي شورا څخه ډير خوښ يو که شورا نه وي موږ به تر اوسه په تيارو کي ژوند کاوه زموږ بريښنا اووه کيلواټه ظرفيت درلود د خپلي راتلونکي د پاره مو تصميم ونيو چي ځواک يي دوه برابره کړو ددي لپاره مو خپله ونډه دوه برابره کړه .

هو ددي پروژي ټول لګښت ۵۱۰۰۰۰ افغاني منظور شوي وو مګر ددي کلي خلکو چي ددي پروژي سره يي ډيره مينه درلوده په خپله ونډه کي ۲۸۶۰۰۰ افغاني زياتي کړي يعني تقريباً په سلوکي پنځوس .

د ملي پيوستون پروګرام دي چي د افغانستان د دولت لخوا د افغاني ټولني د پرمختګ لپاره د تشخيص ، پلان ګزاري اداري او د سيمو د پراختيا يي پروژو د بنسټ ايښودلو او د هغوي څارونکي دي دملي پيوستون پروګرام يوه نوي پراختيايي بڼه منځ ته راوړي تر څو سيمي په دي وتوانيږي چي په تصميم نيولواو په ټولوبرخوکي خپلو کاري پروژو ته تقويت ورکړي دغه پروګرام د خپلي سيمي د پاره داسي يو بنسټ شي چي په هغه سره کلي بيا ورغول شي او نيستي له مينځه لاړه شي .






د ملي پيوستون پروګرام دسيمه ايزوپراختيايي پروژو د ځانګړي پلان جوړولو ،اداري او څارني او دافغاني ټولني د ځواکمن کيدو لپاره دافغانستان ددولت له خوا تاسيس اوپيل شويدي . د ملي پيوستون پروګرام چي نوي پراختيايي لاره يي منځته راوړه ، کلي دي ته چمتو کوي چي دخپلو اړوندو چارو په هکله تصميم ونيسي او دپروژي د کار په ټولو پړاوونو کي خپلي چاري تنظيم او اداره کړي دغه پروګرام داسي بنستونه جوړوي چي دکليو دسيمه ايزحاکميت دوام ، د کليو بيارغونه او دبيوزلي راتيټول پکي شامل دي .
د ملي پيوستون پروګرام په اړه دلا زياتو معلوماتولپاره دغي انترنتي پتي سره اړيکي تينګي کړي .
www.nspafghanistan.org يا ايميل info@nspafghanistan.org